د انټرنیټ دفارسی سرچینو څخه
ژباړونکی : ع ــ زیزاحمد خ ــــ وارمل

# امریکایی خپرونه ولیکل :

## د افـــــغــــانــــــتــــان جګــــــــړه
## همدا اوس پای ته ورسوي !

په نیویارک کې یوی امریکایی خپرونی پلیتیکال افرز دافغانستان جګړه یې دویتنام دجګړی په څیر په ورته ډول سره څرګنده کړی ،اوپه یوه مقاله کې وامریکایی جګپوړی چارواکوته یې ددی وینا په ویلوسره ولیکل : دافغانستان جګړه همدا اوس پای ته ورسوي .

دغه امریکایی خپرونه څرګنده کړی ده : امریکا په افغانستان کې اوسمهال دهغوتیروتنودپیل په حال کې دی چې دغه ډول ستره تیروتنه اوبده کړنه یې په ویتنام کې ترسره کړی وه .

ددی خپرونی دمقالی لیکوونکی لیکی ،موږدداهیسی وخت درانږدی کیدوپه حال کې یوچې دافغانستان په اړه مهمی پریکړی نیول سوی واي .او ایا که امریکا ودی جګړی ته ادامه اوپایینت ورکوي ،نودغه جګړه به په ژوره توګه سره موږ دختوپه لاې او«لجنزار» کې ور ننه باسي،اویاامریکا به دغه جګړه پای ته ورسوی ،ترڅودامریکا وخلکوته روغتیایی مرستی اوڅارنی، داوبواو هوا دبدلون په اړه او دخلکودپاره دکار اوبار درامنځته کولو زمینه برابره کړی ،اوپه دی هکله پانګه اچونی وکړی ؟ ( لندن جانسون دامریکا پخوانی جمهور ریس «۴۵» پینځه څلویښت کاله پخوا یې غوښتل چې دامریکا هیواد دپقره او وروسته پاته والی څخه وژغوره وي او ددی پرابلم څخه یې راوباسی همدغه ډېری تیروتنی ددی سبب وګرځیدی چې په زرګونی امریکایی ځوانان دی په ویتنام کې ووژل سي ) اوکابودری میلیونه (۳۰۰۰۰۰۰) ویتنامیان دامریکا دیرغل په وړاندی مړه اودمنځه ولاړ سي اوهمدارنګه دویتنامیانو دتینګی دفاع په وړاندی هغه کسان چې وامریکایانوته مشکوک معلومیدل هغه یې تروره ول اودمنځه یې وړل . دامریکاواکمنو چارواکوغوښتل چې امریکایي ښي هیلی اوارمانونه رامنځته کړی مګر دویتنام په ځنګلونوکې دغه ټول ښي هیلی اوارمانونه اور یې واخیست .

اودا اوسمهال په هم هغه ډول سره ډېر خلک اوزیات لیکوونکی په خبری رسنیو کښې په ډول ،ډول مقالیوکې تر دی سرلیک لاندی یې لیکلی دی :دافغانستان جګړه دی باید پای ته ورسیږی .

فرانسیس بویل دپوهنتون استاد اونړیوال وکیل ،په (۲۰۰۲) زیږدیزکال کې په یوه مقاله کې یې ولیکل ، امریکا هیڅکله نه بایددافغانستان جګړه یې پیل کړی وای دسپټامبر دیوولسمی نیتی غمیزه یو ټروریستی عمل وو. جګړه یعنی دیوهیوادپوځی یرغل پربل هیوادباندی ،چې بل هیڅ دلیل او شواهید هم نه سته دی چې راڅرګنده یې کړی او دافغانستان هیواد دی پرامریکا باندی یې یرغل کړی وي او یا دامریکا دیرغل سره یې موافقه کړی وي .

د(۲۰۰۱) زیږدیزکال داکتوبر دمیاشتی راپه دی خواهیڅ ډول اسناد اومدارک نه سته دی چې دامریکا یرغل پرافغانستان باندی په واقعی اوربښتینی توګه باندی څرګنده کړی اوپرحق یې وبولی .

امریکا اودهغه ملګري دشمالی اتلانتیک د ناټودپوځی ټرون غړی هیوادونه به کلونه،کلونه (ډېرزیات په افغانستان کې دجګړی په خټواولای «لجنزار»کې بند پاته سي اوپه دی خټواولای کې په ژوره توګه سره ورننوځې ،اودا دامریکاهغه تاریخی ناپوهی اوتیروتنه ده چې دویټنام په اړه یې درلودل اودافغانستان په هکله هم دغه ناپوهی اوتیروتنه درامنځته کیدوپه حال کې دی .

مارك پیلیسوك ټولنیز ارواح پوه (سا پوه ) ،دویټنام دجګړی په هکله وایی : داقراره څخه بیره دتیروتنی سبب ګرځیدلی وو چې په پرله پسی ډول سره دمختلفو تاکتیکونوڅخه کار واخلو . کوم وخت چې پوځی میټودونه دویټنام په ځنګلونوکې دماتی سره مخامخ سول ،موږدکلیو په بمبارډولو،د بزګرانو په شګنجه ورکولوسره داطلاعاتواورپوټونود ترلاسه کولودپاره ، او د یو ګوډاګی دولت په رامنځته کولوسره مومخه وکړ ..... اوزموږ زیار دخلکو دزړونواومغزونودلاسته راوړلو دپاره دپوځی شخړواوآخ او ډب په ترڅ کې کمزوره اوبی واکه سول .

دغه ارواح پوه (سا پوه ) وایی : په پینتاګون کې جوړسوی کړنلاری اوترلاس لاندی پلانونه دافغانستان دبیا جوړه ونی دپاره ،لکه دویټنام دجګړی په وخت کې چې وو او دویټنام دهیواد اودخلکوتاریخی اوفرهنګی عواملو ته هم پاملرنه ونه سول اوهم هغسی په دی هیواد کې «افغانستان » کې ورته اوپه دی ډول سره دي .

اوس مهال باید کوم کار ترسره کړو؟

ټ ام هاي ډ ن د(۲۰۰۹) زیږدیزکال دسپټامبرپه میاشت کې په خپل وړاندیزسره یې دهغو کسانوڅخه چې دافغانستان دجګړی پرضد دي ددوي څخه یې لاس لیکونه دافغانستان دجګړی دپای ته رسول دپاره راغونډ کړل . ټ ام هاي ډ ن په خپل دغه

وړاندیز کې یې دبهرنی ځواکونو دوتلو یو ډول استراتیژی یې وړاندی کړی دی چې منطقی په نظر رسي .

زموږ دولت باید دافغانستان څخه دوتلواوخپل هیوادته دځواکونودبیرته راتګ دپاره یوډول استراتیژی په مخ کې ونیسي چې دخبراتروپربنسټ په جګړه اوشخړوکې دټولو خواوپه ګډون سره ، دسیمه ایزوډیپلوماسی پرمیټود، دبیله کوم قید اوشرط څخه دانسان دوستانه مرستوپه رامنځته کول سره او دوتلود جدول اوپه دی جدول کې پرټاکل سوی وخت باندی دبیرته راتګ اووتلوڅخه دافغانستان څخه دامریکایی اودناټودځواکونودپاره دغه ډول استراتیژی جوړه او رامنځته دی سي .

دافغانستان اوپاکستان دکلیواوکورونوبمبارډونه د ترووریستانودستنې درالاسته راوړلودپاره لکه دغنمودپیروړ ودګدامونوپه شان چې په اور کې سوزی ،نور دی نو ودره ول سي اوپای ته دی ورسیږی .په افغانستان کې دپوځی پانګی اچونی پرځای دی بایدپردی اړینوشیانودی ،لکه دوډی ،کور،ټولنیزاواقتصادی مرستودتامینولودپاره دخوارواوپقیروخلکو سره مرستی او کړنی دی تر سره سي .

ددی څیرونکی دلیکلو پربنست ،امریکاهیڅکله هم نه باید چې دافغانستان جګړه یې پیل کړی واي او دا (۸) اته کاله داهسی وو ،لکه زموږ دتیروتنوتکراره ول چې په ویټنام کې وو .

دهایډن دوړاندیزپربنسټ ، داوباما دولت باید په افغانستان کې دمخالفو سیاسي ځواکونو دیو والی دپاره ،په اسیا اودفارس په خلیج کې دهم ګټوهیوادونوپه مرسته سره دی د ډیپلوماسي دمیټوده څخه کار واخلی .

دافغانستان دجګړی یوازنی دحل لاره ، ددی سیمی څخه دامریکایی ځواکونووتل اوبیرته ورتګ وخپل هیوادته دي اوکه دجنرال میک کریسټال او جنرال دیویډپیټریوس غوښتنی عملی او اجرا سي نوپه دی سیمه کې ستری غمیزی او بدبختی به رامنځته سي .

اوباما په افغانستان کې دجګړی دپیچلتیا او ستونزوسره لاس اوګریوان دی :
دبل ویټنام دتکراروول په اړه ګوت څنډنه!
یوی اطریشی ورځپاڼی په یو رپوټ کې دامریکا دپوځی اوغیر پوځی چارواکو درامنځته سوي اختلافونه په هکله په اشاری سره داوباما داستراتیژی دځرنګوالی په اړه یې د ده دغه پریکړه یې ترفشارلاندی دستونزواومشکلاتوپه موردکې دبهرنی سیاست په هکله وڅیړل .
اطریشی ورځپاڼی «استاندرد» په یوه څیرنه کې په دی هکله ولیکل : په افغانستان کې دامنیتی اوضاع اوحالاتوپر اخه ویجاړتیا دامریکا جمهور ریس اوباما یې د دواړوخواوو څخه ترفشار لاندی راوستی دی .

دامریکا دځواکونوقوماندان په افغانستان کې دامریکایی پوځی ځواکونودزیاتوالی غوښتونکی دی او ددی جګړی مخالفین اوګوتنیونکی دبل ویتنام دتکرارول په اړه ګوت څنډنی کوي .

لیکوونکی په دی لیکنی کې څرګنده وي : دامریکادجمهور ریس اوبامادپاره دافغانستان مس ئ له یودهغو ډېروسختوپریکړوڅخه دی چې دی غواړی وروسته دځیرنی او سوچ کولوڅخه په کراره سره هغه پریکړه ونیسی .مګر دهغه نیتی څخه چې په واشینګتن کې په څرګنده ډول سره دامریکا پوځی اوغیر پوځی مشران اوچارواکی دافغانستان دراتلونکی استراتژی په هکله په خپل منځ کې په جاراوجنګجال سره اخته سویدی او دهمدی کبله نورپه افغانستان کې آرامتیا نسته دی .

استاندرد په دی هکله ولیکل : په واشینګتن کې ددی جار اوجنګجانو دیوی لوری قهرمان په افغانستان کې دامریکایی ځواکونو پیاوړی قوماندان «استلی میک کریستال » دی چې دجون په میاشت کې داوباما لخوا ودی نوی پوست ته وګمارل سو.

دمیک کریستال په باور اوهاندسره لویدیز ډېرلږ وخت لري ترڅوپه هندوکش کې جګړه وګټی او وبری ته یې ورسوي .نو دهمدی کبله دی « میک کریستال» په یورپوټ کې وافغانستان ته دنوروډېروځواکونودزیاتوالی اودرالیږولو غوښتونکی سو .

په دی لیکنی کې څرګنده سویده : همدارنګه دمیک کریستال ددی توصیی څخه راوروسته په واشینګتن کې یې ډېرشکونه اوتردیدونه رامنځته کړی اودا څو اونی کیږی چې دامریکا لالهانده او دوه زړه جمهور ریس یې دافغانستان د مس ئ لی په هکله تر فشار لاندی راوستی دی .

میک کریستال تیره اونی په لندن کې په یوه غیر معمولی وینا کې په افغانستان کې دالقاعدی په وړاندی په مبارزه کې پرجګړه باندی یې ټینګار وکړ ،اودهغه ددی وینا څخه را په دی خواه په واشینګتن کې دامریکا دپوځی اوغیرپوځی چارواکوترمنځ پردی مس ئ لی باندی داختلافونوڅخه خبراتری کیږی او دامریکایی جنرالانودښوروښ څخه هم ډېری خبری اووېناوی رامنځته سویدي .

اطریشی ورځپاڼی استاندرد ددی مطلب په بله برخه کې یې څرګنده کړی ده : دمیک کریستال دتوصیی پربنسټ اوباما په ښکاره توګه سره خپل دریځ یې دافغانستان په هکله کلک کړی دی او د اوو(۷) تیرو اونوڅخه یې هغه یې اعلان اوپه داګه کړ ی دی چې په افغانستان کې جګړه یوه اړتیا ده اوموږنه باید دغه هیواد بل ځل دطالبانو او القاعدی دپاره یو ډاډمن پټنځای دی وګرځوو .

اوباما دسږکال دفبروری په میاشت کې وافغانستان ته دامریکایی پوځی ځواکونود(۲۱۰۰۰) دیـوویشتوزرونـــورونـــویـــوسرتیروپه استلواولیږلوسره،دامریکایی ځــواکـــونـــوشمیریې په افغانستان کې و(۶۷۸۰۰۰) اته شپته زروتنوته ورسول .

ددی مقالی په وروستی برخه کې لیکل سوی دی : اوباما په عین حال کې څو ورځې مخکې دګوندونوداستازوپه شته والی کې دامریکا په کنګری کې په ټینګار سره یې وویل، چې دی «اوباما»په افغانستان کې دپرله پسی یرغلونوپه اړه تر دااوسه پوری دوه زړه دی . /

اخیځلیک : دقطره نیوز څخه .